# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر سید عبدالقادر


۱۸ جنوری ۲.۱۴

# دلوبي له پاره لوبه!

## ۱

**لومړي برخه : دامنيتي تړون دنه لاس ليک په اړوند يوه کتنه :**

**دوهمه برخه : دامنيتي تړون تراحتمالي لاس ليک وروسته دافغان ولس برخه ليک :**

لومړي برخه : ځيني وخت استعماري ځواکونه تر اشغال لاندي هيوادونو کي و خپلو نا رواه مخو ته د رسيدوپه مقصد دولسونو دتير وتلو له پاره دزړي لوبي د کاميابي او يا شاته تگ له پاره دنوي لوبي ځخه کار اخلي ، چی په اوس مهال کي افغان ولس دا لوبه داشغالگرو او لاس پوڅو له خواه دکورنيو او بهرنيو رسنيو پر مخ په خپلو سترگو باندي ويني. داهغه نوي لوبه ده چی دامنيتي تړون د نه لاس ليک کولو له پاره شروع سوي ده ۰ او ظاهراً داسي ښکاري چی کرزي داشغالگرو داصلي استعماري مخو ځخه پس له دولسو کلونو په داسي مهال کي پوهيږي چی دحاکميت دوره يي يوازي يو څو مياشتي پاته ده ۰ نيژدې د دوو مياشتو را په دې خواه د کورنيو او بهرنيو رسنيو له لاری داسی معلوميږی چی ، دکرزي او د اوباما داداري دلوړ پوړو چارواکو تر منځ دافغانستان او امريکا تر منځ دامنيتي او دفاعي تړون دلاس ليک کولو پر سر باندي نااندري ورځ په ورځ مخ پر ډيريدو دي ۰ او کرزي صاحب پر خپلو هغو درو وړانديزونو باندي ټينگار کوي ، کوم چی په اصطلاح دعنعنوي لويي جرگي په وروستی ورځ يي په خپله وينا کي اعلان کړل ، او وي ويل چی : دامريکا له طرفه ددغو درو شرطونوپه منلو سره به بيا زه دامريکا سره دا امنيتي تړون لاس ليک کړم ، يعني (امريکايي ځواکونه به نور دافغانانو د کورونو پلټنه نه کوي ، د سولي ديروسي عملي پيليدل به شروع کوي او دپاکو ټولټاکنو تر سره کيدل به تضمينوي ۰ )

دامنيتي تړون د نه لاس ليک په اړوند امريکايي مختليفو چارواکو لکه دامريکا ددفاع او بهرنيو چارو وزيرانو ، لوي درستيز ، دامريکا دسنا يو شمير غړو ، دناټودتړون سر منشي ، او يو شمير نور دناټو دتړون اړوند چارواکوله خواه پر کرزي صاحب باندي ټينگار سوي دي چی ، داتړون بايد ژرتر ژره لاس ليک او که نه نو د امريکا تر رهبري لاندي ټول سر تيري به د۲۰۱۴ کال تر وروستي نيټي پوري ووځي ۰ او خپلی هغه مالي مرستي به چی دافغانستان ددولت سره يي ژمنه پر کړي ده ، هم بندي کړي ۰ چی ددوي له نظره دا به دافغانستان له پاره ښه راتلونکي نه وي ۰ متاسفانه يو شمير د ( افغان سياسي گوندونو او مدني ټولنو ) رهبريو دخپلو صفوفو دارادي او تصميم ځخه ليري ، په داسي حال کي چی ځانونه دافغان ولس په گټو پوري تړلي هم بولي ، بيله دې ځخه چی د امنيتي تړون متن ولولي

او دملي ګټو په نظر کي نيولو سره تحليل او ارزونه يي وکړي ، او د جمعي رسنيو پر مخ خپل وړانديزونه او نيوه کي وافغان ولس او نړيوالو ته بيان کړي ۰ دوي د خپلوسازمانونو پاک ارمانونه د اشغالګرو او جهادي بشري ، اقتصادي جنايتکارانو او تيکنوکراتانو دچل او چم د ګوابنونو ډکو څرګندونو ، او خپلو شخصي ګټو قرباني کړل۰ او خپل دواړه لاسونه يي رانغښتي ، او هره ورځ پر کرزي باندي ناري وهی چی دا امنيتي تړون بايد ژر تر ژره لاس ليک کړي ۰او که نه افغانستان به يو ځل بيا ۱۹۹۲ ـ کال په څير کورني جګړي ته ورو ټمبول سي ۰ بايد وويل سي چی ددې نوي سياسي لوبي په هکله يو شمير افغان سياسي شنونکو او ليکوالانو مختليف نظرونه څرګند کړي دي ۰ ځيني داسي فکر کوي چی ددې لاري څخه کرزي غواړي چی په راتلونکو ټولټاکنو کي داسي څوک واک ته ورسوي ، چی نه يوازي په راتلونکي کي دده دکورني تر سؤال لاندي غړي يو قضايي خونديتوب ولري ، بلکه دي هم دپردي وشاته دسياسي قدرت څښتن وي ۰ ځکه نو دامريکا سره دي داسي زور زياتي مخ ته بيايي ۰دلته نو بيا داسی سؤال رامنځ ته کيږي ، چی آيا کرزي صاحب ددې توان لري چی دخپل ارباب سره داسي دغري ووهي ؟ ځکه نو دا سي سياسي شنني دواقعيت څخه ليري ښکاري ۰حقيقت خو دادي چی کرزي صاحب په تيرو دولسو کلونو کي دامريکا سره په تفا هم کي هر امتياز تر لاسه کړي او په راتلونکي کي هم تر لاسه کولاي سي۰

يو شمير نور سياسي شننکي ( تحليل ګران ) بيا ودې لوبي ته دپورتني زاويي څخه نه ګوري ، هغوي بيا داسي فکر کوي ،چی کرزي صاحب نه يوازي يو مستقل شخصيت نه دي ، بلکه د کرزي د حاکميت ټول مسير دامريکا په لار ښوونه دغربي نړي تر کنترول لاندي دي ۰ ځکه نو کرزي او واکمنه اداره يي نه يوازي داسي څه نه سي کولاي ، بلکه داسي څه هم نه کوي ، چی هغه دې دخپلو غربي اربابانو مادي او معنوي ګټي حتا دلنډ مهال له پاره هم دګوابنونو سره مخامخ کړي ۰ ځکه په هغه صورت کي بيا کرزي صاحب هم هرڅه دلاسه ورکوي ، ځکه دهغو ي سره يي ګټي نغښتي دي ۰ د هم دغو سياسي شنونکو ( تحليل ګرو ) له نظره داسي ښکاري چی د پردې وشاته ددې لوبي نو ري مخي شتون لري ۰ او کرزي دا لوبه دخپلو بهرني دوستانو سره په تفاهم کي مخ ته بيايي ۰ دافغانستان او منطقي داوسنيو سياسي ، نظامي حالاتو او د افغانستان د اوسني جګړي په وړاندي دغربي نړي دولسونو تر ۸۰ فيصده لوړه کرکه او مخالفتونو څخه هم داسي ښکاري ، چی شايد نه کرزي او نه راتلونکي لاس پوڅي واکمن دې دا تړون لاس ليک کړي ۰ که ددې سياسي لوبي پټي مخي په ريښتيني توګه دافغانستان دلانجي سياسي حل وي ، او په پايله کي يي د وسله وال مقاومت سره په تفاهم کي يوه لنډ مهاله اداره رامنځ ته کوي ۰ نو دا بيا په واقعيت کي نه يوازي دافغان يرغمل ولس په ګټه به وي ، بلکه په منطقه کي دامريکا تر رهبري لاندي دغربي نړي ګټي به هم ساتل سوي وي ۰ که لنډ مهاله اداره دملګرو ملتونو تر مشري لاندي ديوه نړيوال کنفرانس له لاري ( د ۲۰۰۱ کال دبن دکنفرانس په څير نه ) بلکه په هغه کي د جګړي دښکيلو اړخونو تر څنګ افغان مستقل سياسي کار پوهان او په ولس کي پيژندل سوي ملي شخصيتونه هم ګډون ولري ، دصلح دپاره به ښه زيري وي ۰ دپورتنيو شننکو نظر ته کيدلايسي دنړيوالو ويب پاڼو لاندي څو کرښی د صدق والي پوښ ورواغوندي ۰

ــ دامريکا ميتروويست ډيلي نيوز ورځپاڼي د ۱۳ ــ ۱ ــ ۲۰۱۴ نيټي د ( آيا له افغانستانه موږ درس اخلو؟ ) تر سرليک لاندي ليکوال ريک هولس دليکني په يوه برخه کي داسي ليکي : د روان ميلادي کال په پاي کي امريکا يي عسکر له افغانستا نه ووځي ، طالبان تر بل هروخت اوس ډير پياوړي دي ۰ دمخدره موادو قاچاق يوځل بيا په هيواد کي زور اخستي او دامريکايي ځواکونو دکلونو روزني سره سره افغان امنيتي ځواکونو اکثره غړي نا لوستي او داعتبار وړ نه دي ۰ دولس مشر حامد کرزي حکومت دنړي تر **ټولو فاسد حکومت دي ۰ او دا** زموږ پيسي دي چی دوي دسويس په بانکونو کي ايښي دي ۰ ورځپاڼه ليکي له افغانستانه په بريالي توګه وتل به هغه څه وي چی اوبامايي

هيله کوي ۰ خو افغانستان له دي مخکي دمدني هڅو په اړه دبهرنيو هيوادونو د روسيي ، بريتانيا او نورو طاقتونو په وړاندي بريالي مقاومت کړي ، چی دامريکا تجربه هم استثنايي نه ده ۰دليکوال په باور دامريکا تر ټولو اوږده جګړه به پاي ته ورسيږي ، او دبرياليتوب په اړه به يي اختلافات موجود وي ۰ خو يوه پوښتنه داده ، چی هغه به په داسي شکل پاي ته ورسيږي ، چی امريکايي پوځي ، سياسي مشرانو ورڅخه درس اخستي وي ۰

ــ د آزادي راډيو ويب پاڼه د ۱۱ــ۷ ــ ۲۰۱۳ نيټي دوال سټريټ ژور نال په حواله ليکي ،چی سپيني ماڼي يو شمير امنيتي مشاورين غواړي په ۲۰۱۴ کال کي دافغانستان څخه دعراق په څير خپل ټول عسکروباسي ولي دبهرنيو چارو وزارت او پنتاګون بيا غواړي چی يو شمير عسکر د۲۰۱۴ کال نه وروسته هم پاته سي ۰ ولي ددي نظر خاوندان د اوباما په اداره کي په څنډه ( حاشيه ) کي قرارلري ۰

ــ دامريکا ږغ دري ويب پاڼه د ۱۴ ــ ۲ ــ ۲۰۱۳ نيټي د ( په افغانستان کي دامريکا مأموريت تمام سوي دي ) تر سر ليک لاندي ليکي ، چی دامريکا دمتحده ايالاتو جمهور رئيس بارک اوباما دولسي جرګي او دسنا دغړو په وړاندي په خپله څلورمه کلني وينا کي دنورو خبرو تر څنګ داسي وويل : چی په پوره اطمينان سره ويلايسم چی دامريکا متحده ايلاتونه خپل مأموريت په افغانستان کي تمام کړي دي اوخپل هدف ته چی دالقاعدي ماتول دي رسيدلي دي ۰ او هم دا رنګه دبرتانيي لومړي وزير ( کامرون ) د دسمبر پر ۱۷ نيټه د ۲۰۱۳ کال دهلمند په ولايت کي دخپلو سرتيرو سره دليدلو پر مهال وويل : چی څواکونه يي خپله دنده پاي ته رسولي او سرلوړي به کورته ستنيږي ۰

ـــ دواشنگټن پست ورځپاڼي په يوه نظر پوښتنه کي چی د ۲۰۱۳ کال ددسمبر د ۱۲ څخه بيا تر ۱۵ نيټي پوري تر سره سوي ده ليکي چی : دهرو سلوخلګو څخه ۶۶ خلګو په افغانستان کي دجګړي پر ضد دي ، او دهرو سلو خلګو و څخه ۷۸ خلګو ويلي دي چی ، دا يوه تخطي و ه ۰ او هم دا رنګه واشنګټن پست ورځپاڼ سي ان ا ن په حواله بيا په ۳۰ ـ ۱۲ ـــ ۲۰۱۳ نيټه باندي ليکي چی ، ۸۲ فيصده امريکائيان دافغانستان جګړه نه غواړي او يوازي ۱۷ فيصده د جګړی پلوي کوي ۰

ـــ دامريکا لوي درستيز جنرال مارتين د۲۰۱۳ کال د د سمبر په مياشت کي بګرام ته دخپلو سربازانو سره دليدلو پر حال دنورو خبرو وڅنګ ته داسي وويل : امريکا تصميم نه لري چی دامنيتي تړون متن ته دې تغيير ورکړي او دا کار دې دسره شروع کړي۰

ـــ دکرزي په امر دبګرام دزندانه څخه د ( ۶۵۰ ) بنديا ن چی د بهرنيو ځواکونو له خواه دطالب يا ترهګر په نامه نيول سوي وه ، په داسي وخت کي خوشي کيږي چی ظاهراً دامريکا دواکمنانو له طرفه دکرزي دا عمل دسختو غبرګونو سره مخامخ سوي دي ۰ ښکاره حقيت واقعيت خو دادي چی داشغال په شتون کي هيڅ وخت لاس پو ځي د دونه لوي واک لرونکي نه وي ۰

دآزادي راډيو ويب پاڼه د ۱۱ ـ ۷ ـــ ۲۰۱۳ نيټه باندي د کرستين ساينس مانيتور ورځپاڼي په حواله د امريکايي متخصص فردريک کيګن له قوله ليکي چی ، دافغانستان تر ۱۲ کلني جګړي او زرګونو قرباني ورکولو سره دا يو تريخ حقيقت دي ، چی تر ۲۰۱۴ کاله وروسته افغان ځواکونه دامنيت ساتلو توانايي نه لري ۰ او هم دا ورځپاڼه ليکي چی دامريکا دبهرنيو اړيکو د دفاعي شورا د امورو مشاور سټيفن بيدل وايي : چی په اوس مهال کي افغان ځواکونه دبهرنيو ځواکونو ، هليکوپټرونو او دامريکا داستخباراتي سر چينو سره هم نه سي کولاي جګړه وګټي ۰ دده له نظره په اوږده مهال کي دجګړی دپاي ته رسولو له پاره يوازي دوي احتمالي لاري پاته کيږي لومړي لاره وختي او يا نا وخته دطالبانو سره يوه جوړ جاړي (معاملی) ته رسيدل ، دوهمه لاره دافغانستان دحکومت ماته خوړل دي ۰

_ ويليم ، آر ، پولک چی داوباما يو پخواني ملګري دي ۰ ده يي په ۲۰۰۹ کال کي يو هر اړخيز ليک ور استولي وو ۰ چی دليک په يوه برخه کي داسي ورته ليکلي وه : ځيني بهرنيان له اشغال سوو سيمو څخه تر ناکامی وروسته وتلي دي، خو ځيني بيا په دې پلمه بيرته ووزي، چې ګټې نور خپل هدف ته ورسېدل او د پاتېدو اړتيا يې نسته، زه باور لرم چې امريکا اوس هم په افغانستان کې خپل مهم هدف ته د رسېدو فرصت لري.

**تمت باالخير**

نوربيا - ۱۷ ـ ۱ ـ ۲۰۱۴